بیانگر مبارزه برحق پولیس ملی

هفته نامۀ پولیس ملی


اونیزه

د ملي پولیسو د برحقې مبارزې ښکارندوی

■ دور سوم ■ شماره 2 ■ دوشنبه 1401/1/8 هـ . ش ■ شماره مسلسل 369


د سـولې، امـن زيرى كه بهـار راغـلي دى
څه سپين غوندي لمر زموږ په ښار راغلي دى
په سترګو كې د وينو سره سيندونه به وچيږي
څه سـوي بڼ د ګلو ته ماليـار راغـلي دى
د شپې په تاريكـو به د شفق رڼا خپـريږي
د ښكلي وطـن غيږى ته معمـار راغـلي دى

# د کورنیو چارو سرپرست وزیر الحاج سراج الدین حقاني د افغانستان لپاره د روسیې هیواد له ځانګړي استازي ضمیر کابلوف سره وکتل





په دغه کتنه کې چې، د روسیې د سفیر په ګډون د دفاع وزارت، کورنیو چارو وزارت، اقتصاد وزارت زراعت، انرژۍ وزارت استازي هم شامل وو، د دواړو هیوادونو په هر اړخیزو مسایلو بحث او خبرې وشوې.

ښاغلي کابلوف په خپلو خبرو کې وویل: روسیه کولای شي چې د افغانستان اسلامي امارت اړتیاوې پوره کړي او د همکارۍ لاس ورکړي.

وروسته د کورنیو چارو سرپرست وزیر ښاغلي حقاني، په خپلو خبرو کې ښاغلي کابلوف او ورسره راغلي پلاوي ته د ښه راغلاست تر څنګ، په تېر کې د سولې پروسه کې د روسیې هیواد له هڅو مننه وکړه ویې ویل: مونږ خپلو ټولو کړیو ژمنو ته ژمن یو افغانستان به وروسته له دې د هیڅ ګاونډي او نورو هیوادونو لپاره خطر نه وي.

د کورنیو چارو سرپرست وزیر د خپلو خبرو په دوام، د نیشه یي توکو سره مبارزه د ټولو هیوادونو ګډ کار وباله او نشه یي توکي یې تنها د افغانستان نه بلکه د ټولې نړۍ لپاره ستر ګواښ یاد کړ او په ګډه مبارزه یې ټینګار وکړ.

ښاغلي حقاني راغلي پلاوي ته یادونه وکړه چې د بهرنیو هیوادونو لپاره ښه فرصت را منځ ته شوي تر څو اسلامي امارت په رسمیت وپیژني او ګډو منفعتونو ته ګډ کار وشي. دواړو لوریو د ښو اړیکو په دوام ټینګار وکړ.

سرلیک

## ښوونه او روزنه د ملي پولیسو حیاتي اړتیا ده

د امنیتي ځواکونو په منځ کې یو مشهور متل دی چې وایې که د تعلیم په میدان کې دې خولې تویې شي نو د جنګ په ډګر کې به دې وینه تویې نشي، ښوونه او روزنه له یوې خوا ټولې اسلامي نړۍ لپاره یو دیني او شرعي مسؤولیت دی او له بلې خوا د یوه انسانی ژوند غوښتنه ده که د بشري ټولنې تاریخي منظرې ته نظر واچوو نو ښکاره ده چې ټول پرمختګونه د ښوونې او روزنې سره نغښتی دي. افغان نومیالي فیلسوف، سید جمال الدین افغان، اقتصاد او ثروت په تجارت، کرنې او صنعت پورې نړلی بولي او وایي، انکشاف مستقیماً په بشري ټولنه کې د دیني علومو او عصری علومو د پرمختګ نتیجه ده د شرق د خلکو د فقر او تنګدستي یوازینی عامل د علومو نه پیژندل او د عالمانو او دانشمندانو احترام نکول دي همدا راز نوموړی وایي ښوونه او روزنه باید په ټولنه کې اجباري شي دا ځکه چې په یوه ټولنه کې ملت د دولت او حکومت بازو دي، ترڅو چې ملت تعلیم یافته یا با سواده نشي نو حکومتي نظام څرنګه چې لازم دی درست کیدای نشي.

# دیدار هیئت اعزامی ریاست استراتیژیک وزارت امور داخله با قوماندان امنیه ولایت کندز



در این دیدار قوماندان امنیه ولایت کندز محترم قاری احمدالله بدر از تشریف آوری هیئت اعزامی محترم داکتر بشارت رئیس استراتیژیک وزارت امور داخله خیر مقدم گفته وعده همکاری درامورات کاری آنها نمود.

هیئت اعزامی وزارت امور داخله از همکاری قوماندان امنیه سپاس گذاری نمود، هدف اصلی خودرا نظارت و بررسی از ادارات قوماندانی امنیه و جزوتام های مربوط شان، دست آوردها، فعالیت های ادارات، چالش های موجود درولایت، رویه نیروهای امنیتی همراه مردم، همکاری مردم همراه حکومت، رساندن پیام سرپرست وزارت امور داخله، بررسی مشکلات موجود وراه حل برای رفع مشکلات در این سفر بیان نمود.

# د شرقي زون لپاره د یونما حقوق بشر او سیاسي څانګو مسؤلینو د لغمان ولایت امنیې قوماندان سره وکتل



د لغمان ولایت امنیې قوماندان مولوي فیصل "مختار" د شرقي زون لپاره د یونما سیاسي څانګي مسؤل عبدالمالک سیسي، د شرقي زون لپاره د یونما د حقوق بشر څانګي مسؤل سیلو سیټر، د شرقي زون لپاره د یونما مسؤل حاجي عبدالولي او داکتر محمد ایمل سره په خپل کاري دفتر کې وکتل .

د لغمان ولایت امنیې قوماندان ښاغلي مولوي فیصل "مختار" د شرقي زون لپاره د یونما سیاسي او حقوق بشر څانګو مسولینو ته د ښه راغلاست ترڅنګ ځیني معلومات سره شریک کړي او د هر ډول همکاریو ډاډ یې ورکړ .

همدا رنګه د شرقي زون یونما مسؤلینو په خپل وار سره د لغمان امنیې قوماندان څخه خوښي څرګنده کړه او وویل چې یونما د یو کال مودي لپاره بیا قرارداد کړی چې د خوښۍ ځای دی دغه راز په بیلابیلو اړوندو موضوعاتو باندې مفصلې خبرې وکړې او د هر ډول همکاریو ډاډ یې ورکړ .

په اسلام کې د ټولو علومو زده کړه فرض ده نه یوازې دیني علوم چې ځینو هغه یوازې په دین پورې خاص کړیدي ځکه چې په اسلام کې د علم او تحصیل مقصد هغه علوم دي چې وکولای شي انسان ژوند کولو ته آماده او د ژوندانه په لاره کې قوي ګامونه پورته کړي، ترڅو د خپل ژوند ضروریات او احتیاجات رفع کړي، نو په زغر ده سره ویلای شو چې د یوه پیاوړي او غښتلي امنیتي ځواک د جوړولو او رامنځته کولو اساسی شرط ښوونه او روزنه ده که هر څومره پرمخ تللي وسایل او وسایط د امنیتي او دفاعی ځواکونو په لاس کې ورکړل شي که د هغوي په تخنیکي او تکتیکي خواصو پوه نشي او په اړه یې لازمه روزنه نه وي لیدلې. نو هیڅکله به هم ونشي کړای چې له هغو مدرنو او عصری وسایلو او وسایطو څخه د خپلو موخو لپاره لازمه ګټه واخلي باید وویل شي چې د اسلامي امارت مشرتابه، د امنیتي او دفاعی ځواکونو مشرتابه او په خاصه توګه د کورنیو چارو وزارت مشرتابه هم دغه موضوع ته ډیره کلکه پاملرنه کړې او په دې لاره کې یې اغیزمن ګامونه اخیستي دي. د بیلګې په توګه ښوونه او روزنه د کورنیو چارو وزارت د مشرتابه د لومړیتوبونو یوه مهمه برخه جوړوي چې د یاد وزارت له لوري ټولو ولایاتو امنیې قوماندانانو او مستقلو قطعاتو قوماندانانو ته هدایت شوې ترڅو هغه مجاهدین چې د کورنیو چارو وزارت په اړوندو قطعاتو او جزوتامونو کې دندې ترسره کوي دملی پولیسو د ښوونې او روزنې مرکزونو ته واستوي ترڅو مسلکي زده کړې ترسره کړي چې اوس مهال موږ ددې شاهدان یو چې هره ورځ په لس ګونو تنه د اسلامي امارت مجاهدین د مسلکي زده کړو څخه وروسته د ښوونې او روزنې له مرکزونو څخه فارغ کیږي او خپلو هېوادوالوته د ښه خدمت جوګه کیږي، همدا رنګه د کورنیو چارو وزارت مشرتابه هوډ لري پدې لاره کې لانور ګړندي او اغیزمن ګامونه پورته کړي.

پوهنیار سمونمل روح الله

# د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د مبارک نسب لړی

نچوړ: د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د پلار نوم عبدالله بن عبدالمناف بن قصی بن کلاب بن مره بن کعب بن لوی بن غالب بن فهر بن مالک بن نضر بن کنانه بن خزیمه بن مدرکه بن الیاس بن مضر بن نزار بن معد بن عدنان.

د مور له خوا د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم لړی: محمد بن آمنه بن وهب بن عبدالمناف بن زهره بن کلاب، کلاب ته په رسیدو سره د رسول اکرم (ص) د مور او پلار لړۍ سره یو ځای کیږي. د پلار د مور نوم یې فاطمه او د مور د مورنوم یې بره وو. د رسول اکرم (ص) د دواړو طرفونو اناګانې د قریشو د درنو کورنیو لوڼې وې.

د رسول اکرم (ص) کورنۍ د بن هاشم په نوم یادیده یعنې د بن هاشم اولاده ده.

رسول اکرم (ص) یتیم وو د مور او پلار یوازینی زوی وو. رسول اکرم (ص) نهه یا دوولس اکاګان او شپږ عمه ګانې درلودې. په رسول اکرم دا نوم د هغه اکا ابینې وو. رسول اکرم (ص) د پلار نوم عبدالله د مور نوم یې آمنه وه، د دواړو د نسب لړۍ په کلاب کې سره یو ځای کیږي. رسول اکرم (ص) د پلار ټول عمر (۲۴) کاله وو او د رسول اکرم (ص) تر پیدایښت دړې میاشتې وړاندې وفات شوی. د رسول اکرم (ص) پلار په مدینه منوره کې وفات شوی. د رسول اکرم (ص) ماما ګان په مدینه منوره کې میشت وو او د بنو نجار له قبیلې سره یې تړاو درلود، پلار یې د سوداګرۍ لپاره شام ته تللی وو. په لاره کې په مدینه منوره کې تم شو ناڅاپه ناروغ او همالته ومړ. د رسول اکرم (ص) پلار وروسته ام ایمن چې د رسول اکرم (ص) مینځه وه په غاړه واخیسته او عبدالمطلب د رسول اکرم (ص) نیکه دده کفیل او سرپرست وو. عبدالمطلب د رسول اکرم (ص) نیکه هم وفات شو. کله چې د رسول اکرم (ص) نیکه وفات شو د رسول اکرم (ص) اته کاله دوی میاشتې لس ورځې عمر وو او د عبدالمطلب عمر دا وخت (140) کاله وو.

رسول اکرم (ص) شتمن نه وو خو د مکې په سردارانو کې ډیر درونډ او د اعتبار وړ کس وو. د عبدالمطلب د وفات وروسته د رسول اکرم (ص) پالنه د هغه اکا ابو طالب د حضرت علی (رض) پلار په غاړه شوه. رسول اکرم (ص) ته امي ویل کیده امي داسې چاته ویل کیده چې پر لیک قادر نه وي ځرنګه چې رسول اکرم (ص) همدا ډول وو ځکه نو د رسول اکرم (ص) لقب امي وو.

رسول اکرم (ص) پر امیتوب پاتې شو. دا ځکه چې لومړی خو لیک لوست په عربو کې چندان شهرت نه درلود او د مکې په څېر ښارونو کې پنځه یا اووه کسان په لیک لوست پوهیدل له دی بر سیره د رسول اکرم (ص) پالونکي یو په بل پسی وفات شول رسول اکرم (ص) په یتیمانه ډول لوی شو، له همدې کبله امي پاتی شو، په اصل حقیقت خو الله (ج) خبر دی. د رسول اکرم (ص) په امي پاتی کیدو کې په ښکاره توګه څو فایدې ځرګندیږي.

۱- ټولې نړی ته علم، پوهنه تهذیب او تمدن رسول اکرم صلی الله علیه وسلم وړ وښود همدا رنګه د زده کړې او روحاني پالنې په لړ کې هم رسول اکرم (ص) د بل له احسان ځخه خوندي وساتل شو.

ځرنګه چې د رسول اکرم (ص) درجه تر ټولو لوړه او یو خاص بنده وو له همدې کبله پر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ډیر تکلیفونه او غمونه راغلل، ګویا چې رسول اکرم (ص) په ډیرو آزموینو کې ډیر سندونه تر لاسه کړي وو او قانون دادی له کوم چا سره چې ډیر سندونه وي د هغه ډیر درناوی کیږي.

رسول اکرم (ص) په کوچنیوالی کې تر ټولو لومړی د خپلی مور شیدې ورودې بیایې څو ورځې وروسته د ابولهب د مینځې ثوبیبې تی وروده تر دي وروسته حلیمې سعدیې (رض) هغه ته تی ورکړ، کله چې ثوبیبې خپل بادار ابولهب ته د رسول اکرم (ص) د پیدا کیدو خبر ورکړ نو ابو لهب د وراره د پیدا کیدو په خوشحالي کې ثوییبه آزاده کړه د عربو د لویو خلکو عامه قاعده وه چې ماشومان به یې د شیدو یا تی رودلو لپاره شاوخوا نږدې کلیو ته لیږل، تر څو یې بدنی قوت وده وکړي او ژبه یې صفا شي چې د ښاریانو ژبه د نورو خلکو د تګ راتګ له وجې صفا نه وي.

منځپانګه: سوال دا دي چې رسول اکرم (ص) په دي وخت ځنګه تر حلیمې سعدیې ورسید ځرنګه چې ددې قبیلې ښځو په عام ډول د قریشو ماشومانوته تی ورکاوه او په کال کې دوه واره په همدې موخه مکې ته راتلې چې کوم ماشوم زیږیدلې وي هغه د شیدو ورکولو لپاره راوړي له همدې وجې د خپلې قبیلې له ښځو سره د حلیمې سعد یې (رض) شیدی لږ وې ځکه یې نو شتمنو خلکو ماشومان ونه مونډل یوازې د رسول اکرم (ص) د مبارک خدمت نیکمرغی یې ترلاسه کړه ځکه چې رسول اکرم (ص) یتیم وه، رسول اکرم (ص) ځخه یې د زیات شوې د الله (ج) په امر یې دومره شیدې وکړې چې د ټولو بس شوې. حلیمه (رض) په یو کچر راتله چې ډیر ډنګر او کمزوری وو او تر ټولو شاته به روان وو خو په راستنیدو کې د رسول اکرم (ص) په برکت او د الله (ج) په امر تیز او چابک شو چې تر ټولو به مخته روان وو دا ټول برکت د رسول اکرم (ص) او د الله (ج) د امر وجه وه رسول اکرم (ص) ذهین، هوښیار، نیک طبیعته، صابر او د ښه نظر څښتن وو. د تدبیر او تناسب ګویا بیلګه وه.

پایله: په پایله کې باید ووایو چې ریښتنولي، امانت ساتنه، ادب، تعظیم او تهذیب د رسول اکرم (ص) په ختنه کې اخښل شوي وو په بل عبارت چې د قدرت خواک هغه د ټولو ښیګڼو لپاره د یو انځور په ډول پیدا کړی وو کله چې رسول اکرم (ص) په ښه او بد پوه شو له هماغه وخته یې په خپل لاس د روزي ګټلو او خوړلو سره مینه لرله، پر بل چایې د خپل خان بوج هیڅکله خوښ نه وو.

نو موږ مسلمانانو ته هم لازمه ده چې د رسول اکرم (ص) لاره غوره کړو ترڅو د دنیا او آخرت په چاروکې بریالی او سر لوړی اووسو.

اخیستلیکونه:

۱- د اسلام تاریخ 1224-17 رجب المرجب
۲- مولانا محمد میا رحمته الله علیه – لیکوال
۳- مولوی محمد غفور پیروز – ژباړن
۴- علامه حافظ شمس الدین محمد الذهبی رحمته الله علیه

ادامه صفحه

پنځه اوښان، يوه مينځه چې ام ايمن نوميده په ميراث پريښودل. د رسول اکرم (ص) مور په څلورم يا شپږم کال وفات شوه د رسول اکرم مور په ابوأ کې وفات شوه چې د مکې او مدينې تر منځ موقعيت لري. د رسول اکرم (ص) مور ابوأ ته د خپلې کورنۍ ليدلو لپاره تللې وه د رسول اکرم (ص) پالنــه د مـور د وفـات څخـه

۲ـ کله چې رسول اکرم (ص) نړۍ ته د هوښيارۍ ، پوهې، تمدن او تهذيب درس ورکاوه نو داسې تصور نه کيده چې رسول اکرم (ص) لومړی کتابونه لوستی د الله (ج) په خاصو بندګانو ډير مصيبتونه راځي، تر څو هغوی وازمويل شي چې هغوی تر کومه ځايه په ستونزو او تکليفونو کې د الله (ج) رضا ته پام کوي

انعام او اکرام هيله نه درلوده. د رسول اکرم (ص) د مبارکو قدمونو په وجه حليمی رضی الله عنها د هغې قبيلې څخه برکتونه ترلاسه کړل په دې وخت کې د حليمی (رض) شيدی دومره ډيري شوې چې مخکې به يې ماشوم وږی وو خو له رسول اکرم (ص) وروسته هغه په نس موړ شو د کومو اوښو شيدی چې و چې

# تدابیـرامنیتی پولیس سـرحدی

افسران پولیس سـرحدی در پوسـته هـا در وقت تلاشی اشخاص ووسـایط بایـد تـدابیر امنیتی را بصورت جدی مراعات نمایند وبایـد بدانند که چطور وظـایف خـود را بـه شـکل محفوظ اجرا کنند. آن عـده افسـران بـرای اجـرای ایـن وظـایف اسـتخدام شـوند کـه شایستگی اجرای این کار را داشته باشند نـه کسانیکه موجب مشـکلات بـرای همکـاران خود گردند. اگر کدام حادثه رخ بدهـد پـس آنها نمیتوانند از عهده آن برایند و عوامل آن صحت نادرست، نوشیدن مشـروبات، ومـواد مخدر میتواند باشد.

افسران سرحدي که براي اجراي اين کار موظف ميشوند بايد کارهاي ذيل را انجام دهند:

ـ خود را مطمئن سازند تجهیزاتی که دارنـد مثل ( دنده، ولچـک،چراغ دسـتی، مخـابره، واسپری مرچی )درست باشد.

ـ خود را آگاه بسازند که سلاح شـان آمـاده؛ انداخت است یا خیر؟ همیشه باید شارژور در داخل سلاح و یـک عـدد مرمـی در داخـل خوابگاه باشد.

ـ اگر نقصی در تجهیزات شـما باشـد، بایـد بدون معطلی به آمر تان راپور بدهید. دروقت اجرای وظایف در حاشیه سرحد برای افسران سرحدی لازم است تـا ارتبـاط مخـابروی لاینقطع را با قرارگاه خود داشـته باشـند دریـن صـورت فرسـتادن کمـک توسـط قرارگاه به موقعیتی کـه حادثـه رخـداده بسیارساده است.

افسر پولیس در جریان یک حادثه شاید نشانی گفتن جزئیات موقعیـت خـویش رابه قرارگاه فرامـوش کنـد کـه دریـن صورت هر نوع کمک به افسران پـولیس به تاخیر می افتد.

ـ در آغاز وظیفه خـود را مطمـئن سـازید، کـه مخابره شما در انتقال و اخذ صداها کار میکند.

ـ شما باید فریکـانس تعیـین شـده خـود را بدانید،ووقتیکه به شما مخابره میشود آمـاده جواب باشید.

ـ در صورت حادثات خاص مثلاً کشـف مـواد مخدر، اسلحه، قاچـاق انسـان، غـارتگری، و چپـاول ارسـال معلومـات بـه قرارگـاه ویـا همکاران خویش باید کودهـای قـبلاً ترتیـب شده داشته باشید.

ـ صدای مخابره خود را طورعیار سـازید کـه صرف شما شنیده بتوانید، نه آنقدر بلنـد کـه چهار اطراف شما بشـنوند واز حـالات مطلـع شوند.

اجراآت افسـرپولیس در وقـت مواجه شدن با شخص ویا اشخاص در سرحد:

ـ دو ویا بیشتر از دوتن افسر باید یکجا کـار کنند،در آغاز وظیفـه، وقتـی بایـک حالـت مواجه میشوند، آنها باید بدانند که هـر یکـی ازآنها کدام بخش از کار خود را پیش ببرند.

ـ در وقت روبرو شدن بـا اشـخاص مظنـون افسران پولیس باید تصمیم بگیرند که کـدام آنها مسوول اقدامات و اجراآت مورد نظـر بـا مظنـونین و کـدام آن در عقـب ایسـتاده و مراقب اوضاع و مسوول تدابیر امنیتی باشد.

ـ همیشه در وقت تلاشی یک شخص، باید از شـخص مظنـون در فاصـله محفـوظی قـرار داشته باشید.

ـ هیچ وقت باید بالای خود از حد زیاد متکی نباشید، بلکه همیشـه آمـاده عکـس العمـل باشید اگر اتفاقی رخ دهد.

ـ همیشه در زمان تلاشی کردن یک شـخص خود را مطمئن سازید که میـل سـلاح شـما طرف شخص مقابل ورفیق خود تان نباشد.

ـ در زمان گرفتن ویا دادن اسناد، هیچگـاه از دستی که ذریعه آن اسلحه استعمال میگردد استفاده نکنید.

ـ ملاحظه نمـودن جزئیـات اسـناد بایـد در محضر افراد صـورت نگیـرد، بـالای مظنـون بیشتر شک داریدپس این عمل باید در یـک جای مخصوص صورت گیرد.

ـ در زمان کنترول اسناد با شنیدن صـداهای اشخاص مورد کنترول پریشـان نشـوید،باید فکرتان را به اجرای وظیفه متمرکز نماید.

ـ در زمان تـاریکی اگـر در جـای کـه شـما مشغول اجرای وظیفه هستید، روشنی خوبی وجود ندارد باید ازچراغ دستی خود اسـتفاده نمایید، وهمچنان در وقـت تلاشـی، شـخص مطلـوب را در روشـنی قـرار داده و خـود را برعکس در تاریکی قرار دهید.

دستورات عمومي در وقت تلاشي نمـودن وسـايط نقليـه در سرحد:

ـ قبل از تلاشـی نمـودن مـوتر در سـرحد، از دریور باید خواسته شـود تـا مـوتر و رادیـو را خـاموش نمـوده وکلـی مـوتر را تسـلیم کند(ملاحظه شود که کلی از خود موتر باشد).

ـ اگر تاریکی باشد،از دریور بخواهید تا چراغ های داخلی موتر را روشن کند.

ـ هیچ وقت سر تانرا در کلکین مـوتر داخـل نکنید، اگرشما ایـن عمـل را اجـرا نماییـد، درحقیقت از یک جای محفوظ به یک جـای نا محفوظ رفته اید.

ـ در زمـان ملاحظـه اسـناد یـک فاصـله محفوظی را اختیار نماید.

ـ در وقت تلاشی همیشه در قـدم اول بایـد شخص، دوم موتر و بعداً هر چیزیکه در داخل موتر باشد، تلاشی شود(بار وغیره).

- همیشـــه دریـــور را ا ز مـــوتر بیـــرون بیاورید(جزاینکه تحت توقیف واذیـت شـده باشد)تمام دروازه ها وقسمت های موتررا بـاز نمایید آنها ممکن بمب های مصنوعی یا اشـیا و آلات نوک تیز داشته باشند.

ـ اگر لازم باشد بطور کامـل از یـک گـروپ مردم که در یک موتر باشند تلاشـی صـورت نگیرند آنها باید جدا شوند و بعداً یکـا یـک تلاشی گردند.

نـوت: وقتیکه ماشـین مـوتر روشـن باشـد، تلاشی آن مصؤن نیست. اکثراً ملاحظه نمـودن نمبر پلیت موترملاحظـه نمـودن نمبرماشـین دروقت چالان بودن ماشین اجرانگردد(احتمال خطـراز پـرزه هـای حرکـت کننـده مـوتر) و همچنان اگر ماشین مـوتر روشـن باشـد،یک شخص میتواند به بسیارسـادگی مـوتر رافـرار

# د بکخېل ولسوالۍ مشرانو د اړوند ولسوالۍ له امنیې قوماندان سره خپلې ستونزې شریکې کړې



د پکتیکا ولایت بکخېل ولسوالی قومي مخورو، دیني علماوو او خوانانو د یادې ولسوالی له امنیې قوماندان سره د خپلې ولسوالي اړوند ستونزې او غوښتنې شریکې کړې.

مشرانو وویل: د بکخېل ولسوالی ولسونه له اسلامي امارت سره په بشپړ ډول همکار دي او له کړنو یې کلکه ننګه کوي.

دوي زیاته کړه: چې تېر نظام کې د دوي ولسوالي چې غیر رسمي ولسوالي وه، لکه څرنګه چې لازمه وه هغسي پاملرنه نه ده ورته شوې، تمه ده د افغانستان ا.ا ورته راتلونکې کې د پوهنې، روغتیا، پراختیا او بیا رغونې په برخو کې د پام وړ کړنې ترسره کړي.

د پکتیکا ولایت بکخېل ولسوالی امنیې قوماندان ملا عبدالله شاه قدرت د یادې ولسوالی له مخورو مشرانو، دیني علماوو او خوانانو څخه مننه وکړه چې د خپلې ولسوالی اړوند ستونزې او غوښتنې یې د حل په موخه له دوي سره شریکې کړې.

قدرت زیاته کړه، نوی نظام به ورته په ټولو برخو کې زیات کار کوي او د ولسونو غوښتنو ته به وخت په وخت رسیدنه کوي.

د دوي په خبره چې نوی نظام به د نورو برخو ترڅنګ د پوهنې، روغتیا او پراختیا په برخو کې د هېواد په ټولو سیمو او ځانګړي ډول محرومو ولسوالیو کې تر بل هر چا او هر وخت زیات کار کوي.

د یادونې وړ ده چې د غونډې په پای کې د یوه جومات او پنځو خونو د جوړېدو د بنسټ ډبره هم کېښودل شوه چې ډېر ژر به یې چارې په سم کیفیت بشپړې شي.

# رهائی یک طفل خورد سال از چنگ آدم ربایان توسط نیروهای امنیتی ولایت هرات




پرسونل آمریت امنیت قوماندانی امنیه هرات، بعد از اینکه اطلاع حاصل نمودند که یک طفل ۸ ساله توسط افراد ناشناس از داخل شهر ربوده شده است، عاجلاً داخل اقدام شده طی عملیات کشفی موفق به آزاد سازی این طفل خورد سال از چنگال آدم ربایان شدند.

از اینکه نیروهای امنیتی حوزه مذکور به تعقیب وجستجو آدم ربایان شده بودند، آدم ربایان طفل مذکور را رها نمودند و پا به فرار گذاشتند.

همچنان نیروهای امنیتی در تلاش بازداشت عاملین این قضیه بوده، و آنهار را به زودترین فرصت دستگیر و به پنجه قانونی می سپارد.

از سوی هم خانوادۀ طفل مذکور از تلاش های نیروهای امنیتی جهت رهایی طفل شان قدر دانی نمودند.

# بغلان کې د ځانګړو ځواکونو له روزنیز مرکز څخه ۵۰ تنه فارغ شول



بغلان کې د ځانګړو ځواکونو له روزنیز مرکز څخه ۵۰ تنه له مسلکي، پوځي او عقیدتي زده کړو څخه فارغ شول.

په یاده فراغت غونډه کې د بغلان والي قاري بختیار معاذ، د بغلان امنیې قوماندان مولوي صفي الله صمیم، د بغلان ولایت مرستیال قاري نعیم همکار، د امنیت آمر مولوي شیرعلي حیدري او یو شمېر نورو مسؤلینو ګډون درلود.

یادو مسؤلینو فارغ شویو ځواکونو ته له خلکو سره د ښه چلند، دهغوي دامنیت ساتنې او هوساینې په باب لازمي سپارښتنې وکړې.

له لومړي مخ

# د کورنیو چارو وزارت څخه ورغلي هیئت د پکتیا امنیې قوماندان او همدارنګه د ولسوالیو امنیې قوماندانانو سره ولیدل



دقاري ګل امیر په مشرۍ ورغلي هیئت دپکتیا ولایت امنیې قوماندان مولوي محمد عمر (مخلص) او د ټولو ولسوالیو امنیې قوماندانانو دپکتیا امنیې قوماندانۍ د مقام په دفتر کې ناسته ترسره شوه، یاده ناسته دقرآن کریم د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت سره پیل له هغې وروسته مولوي (مخلص) پرانیستې وینا ترسره کړه، د ورغلي هیئت څخه یې مننه وکړه چې په ولسوالیو او همدا رنګه دپکتیا امنیې قوماندانۍ کې لوژیستکي چارو او نقلیه وسایطو دڅارنې په موخه پکتیا ولایت ته راغلي یاست د دوي کار یې وستایه له هغې وروسته ورغلي هیئت له ځان سره راوړې مکتوب ګډونوالو ته تشریح کړ او دګډونوالو دیاد مکتوب په اساس په پوره ډول ورغلي هیئت ته عملي کولو ډاډ ورکړ یاده ناسته په اختتامي دعا سره پای ته ورسیده!

# یک تن درپیوند به سرقت اموال یک باب منزل ازسوی منسوبین امنیتی در پروان بازداشت شد



منسوبین آمریت حوزه پنجم امنیتی قوماندانی امنیه ولایت پروان درجریان چک پاینت یک تن مسکونه سنجدره مرکز پروان را دستگیر نمودند. که این فرد یک تخته سولر ویک تخته فرش اطاق را ازیک باب منزل سرقت نموده بود. اجناس بدست آمده دوباره به مالک اصلی اش تسلیم داده شد.

فرد بازداشت شده جهت بررسی های بیشتر به بخش های مربوطه محول گردید.

# د کندز ولایت امنیې قوماندان له علمأ کرامو، سپینږیرو او د ګذر وکیلانو سره ناسته تر سره کړه



یادې څرګندونې دکندز ولایت امنیې قوماندان قاري احمدالله بدر د علماء کرامو او سپینږیرو په یوه غونډه کې وکړې.

یاده غونډه چې دکندز ولایت امنیې قوماندان لخوا د ښار اړوند د ټولو ناحیو له علماء کرامو، مخورو سپینږیرو او د ګذر وکیلانو سره د هماهنګۍ او همغږۍ په خاطر دامنیې قوماندانۍ په مسجد کې په جوړه شوې وه ټولو امنیې قوماندان ته دښه راغلاست ویلو ترڅنګ دهر راز همکاریو او همغږیو ډاډ ورکړ، او داسلامي نظام راتګ یې د الله "ج" یو ستر انعام وباله، له مسؤلینو څخه یې دعدالت او د اسلامي قانون د احکاماتو دپلي کولو غوښتنه وکړه.

او د شته ستونزو د حل لپاره دې مثبتو ګامونو د پورته کولو غوښتونکې شول.

په پای کې امنیې قوماندان ټولو ته دښه راغلاست ویلو تر څنګ د دې سترې فتحې مبارکې وویله او دوي یې ددې شل کلنې جګړې اصلي ګټونکي او د اسلامي نظام راتګ ددوي دښو روزنو برکت وګڼه، امنیې قوماندان له دوي څخه غوښتنه وکړه دتیر په څیر اوس هم دوطن دآبادۍ او سوکالۍ او داسلامي نظام دنفاذ په برخه کې لاس په لاس شئ اوخپلې مرستې مه دریغوئ،اوهغه هیواد وال چې له هیواد څخه بهر تللي دعوت ورکړئ ترڅو خپل هیواد ته راستانه شي او دخپل هیواد دآبادۍ لپاره کار او په پوره اطمینان سره خپل ژوند ته دوام ورکړي.

■ شماره عاجل قوماندانی امنیه کابل 100

POLICE
NATIONAL WEEKLY

| | |
|---|---|
| صاحب امتیاز | وزارت اموداخله |
| مدیر مسئول | سمونوال میرآغا «ستانکزی» |
| سکرتر مسئول | سمونیار عبدالطیف |
| برگ آرا | سیدخیلی |
| شماره تماس | 0791156326 |
| تیراژ | 5000 |
| محل چاپ | مطبعه معاونیت طبع و نشر ریاست روابط عامه، ریاست عمومی ارتباطات استراتیژیک |

د ليکنې پلاوي تر نظر لاندې

| | |
|---|---|
| قاری سعید «خوستی» | رئیس |
| مولوی جاویدالرحمن «حسینی» | عضو |
| پوهنوال سمونوال سید عبدالقیوم تابش | = |
| سمونوال سید احمد زبیر «میرزاد» | = |

دور سوم ■ شماره 2 ■ شماره مسلسل 369 ■ Monday 28 March


# د غزني ده يک ولسوالۍ کې دوه تنه لاره وهونکي مسلح غله ونيول شول



د غزني په ده يک ولسوالۍ د امنيې قوماندانۍ سرتېرو ديادې ولسوالي دپکتيا او غزنـي سـرحدي غرنـۍ سيمې دولت خان کلي تـه څيرمـه دسرک پـه سر هغه دوه تنـه مسلح غلـه ونيول چې دوه ورځې مخکې دشنبې په شپه يي ديو مازدا موټر له مـوټر وان څخـه يولـک افغـانۍ او اسـناد وړي وو د امنيـې قومانـداني سرتيرو د زيار او هڅو په نتيجه کې دګزمې پـه وخت کې دشپې ناوختـه دواړه مسلح غله ونيول.

چې يو ميل کلاشينکوف هم ورسره نيـول شـوي مجـرمين يـو دپکتيکـا ولايـت متاخـان ولسوالۍ او بل يـي د لـوګر ولايـت محمـدآغې ولسـوالي اوسيدونکي دي.

يـاده غزنـۍ سـيمه چـې وخـت ناوخـت بـه ورنـه دغلا راپورونـه ورکـول کېـدل ددې ظالمـانو لـه نيولو سره بـه ان شا الله پـه امن شي.

دواړه غلــه خپـل جـرم منلـي او دلا څيرنـو پــه خـاطر بــه يـي دوسـيه څارنوالي ته وسپارل شي.

دده يک ولسوالۍ امنيې قوماندان ملا فيروز دولسونو لـه همکـاري مننـه وکړه او وايي چې دمجرمينـو نيولـو ته يي متي رابډوهلي دي.

# ګرشک ولسوالۍ کې دوه تنه انسان تښتوونکي ونيول شول




د هلمند ولايت ګرشک ولسوالۍ اړوند د اوبازانو په سيمه کې د ملي پوليسو او استخباراتو رياست د مسؤلينو لخوا يــو درې کلــن ماشــوم د انســان تښتوونکو لـه منګولو وژغورل شو. امنيتي مسئولين وايي ياد دوه تنـه چې حکېم او وکېل احمـد نـوميږي خپـل د عمه زوی يې تښتولی وو چې د کشفي او استخباراتي راپور پر اساس ياد دوه تنه انسان تښتوونکي ونيول شول.

د دوي په خبره ياد کسان اوس مهال تر څيرنو لانـدې دي او تـر پلټنو وروسته بـه عـدلي او قضـايي ادارو تـه معرفـي شي .

د يـو بـل خبـر لـه مخـې: د هلمند ولايت سنګين ولسوالۍ اړوند د مالمون سيمه کې د نيشه يي توکو يوه کارخانـه د کشفي او استخباراتي راپورو پـه اساس ونيـول شـوه. د يـادي ولسـوالۍ امنيتـي مسئولين وايي چې پـه ياده کارخانـه کې پـه زياتـه انـدازه بېلابېل نيشـه يـي تـوکې موجود وه چې د امنيتي منسوبينو لخوا د پنځو تنو سره يو ځای ونيول شول.

د مسؤلينو پـه خبره نيول شوي کسان اوس مهــال د مجاهـدينو تـر پلټنـو لانـدې دي او تـر څيرنـو وروسـته بـه عـدلي او قضـايي ارګـانو تـه معرفـي شـي ديـادولو وړ ده چـې تـر دې څـو ورځــي وړانــدي هــم پــه ګرشــک ولسـوالۍ کـې يـوه بلـه دې تـه ورتـه کارخانـه کشف او لـه منځه وړل شوې وه.

# د کورنيو چارو وزارت د داخلي امنيت پلاوي د خوست ولايت امنيتي قوماندان او منسوبينو سره ناسته تر سره کړه

خوست ولايت ته د کورنيو چارو وزارت د داخلي امنيت لوي رياست څخه يو پلاوي استول شوی چې مشري مولوي اسدالله حليم کوله چې ياد پلاوي په امنيې قوماندانۍ کې له قوماندان او د مختلفو ادارو له منسوبينو سره ناسته ترسره کړه. په ياده ناسته کې دخوست امنيې قوماندان مولوي محبوب شاه قانت پلاوي ته د ښه راغلاست ترڅنګ ډاډ ورکړ چې د مرکزي ادارې د هداياتو او امرونو سره سم به اجراات کوي. بلخوا د راغلي هيئت لخوا په ناسته کې د امنيې قوماندانۍ پرسونل ته سپارښتنه وکړه چې د هر ډول فساد مخنيوی، د امنيتي مسئولينو څار، د خارجي استخباراتو د فعاليت د مخنيوي په موخه فعاليت چټک کول، د نظام او ولس ترمنځ د اړيکو پياوړي کول او د اداري چارو د پراختيا او چټکتيا لپاره د مامورينو څارل به د داخلي امنيت کارمندان او کارکونکي په جدي توګه وڅاري.

د ناستې په پای کې د هېواد او ولس د پرمختګ لپاره د الله (ج) په دربار کې لاسونه لپه شول.

# جلسهٔ امنیتی و کشفی تحت ریاست مولوی حبیب الله "حماس" قوماندان امنیه ولایت سمنگان تدویر یافت

مولوی حبیب الله "حماس" قوماندان امنیه ولایت سمنگان، جلسه امنیتی را با اشتراک معاون امور امنیتی، مسوولین کشفی، استخباراتی آمرین حوزه های امنیتی، قوماندانان قطعات و جزوتام های مرکزی، مدیران و آمرین شعبات قرار گاه قوماندانی امنیه ولایت سمنگان در دفتر کار خویش دایر کرد.

در آن جلسه قوماندان امنیه ولایت سمنگان ضمن اشاره به مسوولیت ها و وظایف مسوولین، در پیوند به تشدید گزمه های شبانه و روزانه، اتخاذ تدابیر بهتر امنیتی، تأمین امنیت شهروندان، پیگیری و گرفتاری مجرمین جرایم جنایی، مجرمین مواد مخدر، سرکوب بغاوتگران، افراز چک پاینت ها در سرتاسر ولایت بشمول ولسوالی های هفتگانه صحبت کرده؛ هدایات لازم صادر کرد.

همچنان مولوی حبیب الله حماس افزود: ملت رنجدیده ای که 20 سال مسلسل زیر سیطره کفر و الحاد زندگی داشتند، جان، مال و ناموس ایشان در امن نبود، حالا زمان آن رسیده است تا منسوبین امارت اسلامی با جان نثاری ها و فداکاری های خویش امنیت و آرامش عمومی را در کشور به ارمغان بیاورند.

قوماندان امنیه ولایت سمنگان از منسولین امنیتی کشفی و استخباراتی این ولایت خواست، تا وظایف و مسوولیت های شانرا به اساس پلان های امنیتی، کشفی منظور شده مخلصانه وصادقانه انجام دهند.

# كشف و ضبط ۲۹ ميل اسلحه مختلف النوع در شهر زرنج، ولايت نيمروز



بر اثر سعي و تلاش نيروهاي كشفي و استخباراتي قومانداني امنيه ولايت نيمروز، به تعداد ۲۹ ميل سلاح مختلف النوع كشف و ضبط گرديد.

الحاج سردار محمد "ايوبي" قوماندان امنيه ولايت نيمروز طي نشست مطبوعاتي به آژانس خبري باختر گفت: در اثر سعي و تلاش نيروهاي كشفي و استخباراتي قومانداني امنيه اين ولايت به تعداد ۲۹ ميل اسلحه مختلف النوع كه شامل ۴ ميل جي سي، ۹ ميل كلاشينكوف، ۳ ميل راكت انداز، ۱۲ميل تفنگ چه و ۱ ميل پيكا شامل مي باشد كشف و ضبط گرديد.

آقاي "ايوبي" ضمن

# قوماندان امنیه کاپیسا از ولسوالی و قوماندانی امنیه حصه دوم کوهستان کنترول به عمل آورد

به سلسله دیدارهای قبلی از قوماندانی ها و پوسته های امنیتی ولسوالی های هفت گانه ولایت کاپیسا، این بار مولوی ضیاءالحق حامد که قاری محمد نبی عابد رئیس استخبارات نیز ایشان را همراهی می کردند، از ولسوالی حصه دوم کوهستان دیدار نمودند.

قاری عابد در این دیدار به اهمیت تأمین امنیت اشاره نموده، اذعان داشت که غفلت وظیفوی باعث بدنامی امارت اسلامی می شود که این موضوع برای مقامات قابل قبول نمی باشد.

هدف از این دیدار ها آشنایی با پرسونل، اراضی، بررسی همه جانبه ادارات، فعال سازی مجدد اداره های غیر فعال، ایجاد هماهنگی میان ولسوالی های همجوار، تدویر جلسه های مثمر به منظور حل مشکلات موجود، آگاهی دهی از آغاز دورهٔ تفسیر قرآن کریم به پرسونل قوماندانی ها، تشریح لایحه وظایف پرسونل و توجه به امنیت محل و منطقه عنوان شده است.

■ شماره عاجل قوماندانی امنیه کابل 100